# د فضل احمد غر په شاعرۍ کښې ترقي پسندي

# Progressivism in Fazal Ahmad Ghar's Poetry

Issn 2304-1463

Usama Khan

Gmail:Usamakhanbspasto@gmail.com

**ABSTRACT:**

Fazal ahmad Ghar is a prominent poet of the twentieth century in Pashto literature. Although, directly or indirectly, he was not associated with any progressive movement, like other poets of his age, he is also influenced by progressivism. His poetry is a reflection of contemporary society. This paper is an attempt to analyze his poetry and to elaborate the impact of progressivism in it.

ترقي پسندي هر څو کۀ پۀ ادب کښې د نوم له لحاظه نوې ده خو ولې په بنيادي ډؤل ترقي پسندي په ادب کښې د وړاندې نه موجوده وه او په خاصه توګه پۀ پښتو ادب کښې يې شتون لرلو - پۀ ادب کښې د دې اصطلاح ډېره وسيعه ده -

" د دې توري يا اصطلاح چې مفهوم او مقصد ترقي پسندو دانشورو بيان کړے دے د هغې تر مخه ترقي پسندي پۀ هر دور کښې د يو داسې رجحان احاطه کوي کوم کښې چې پۀ خيال او فکر کښې روښانتيا او پراختيا راولي، د

معاشرې تعليمي، سياسي، اقتصادي، مذهبي او تهذيبي وقار ته وده ورکوي پۀ معاشره کښې د انسان دوستۍ، امن، وروروڼۍ، رواداري، همدردۍ او سوکالۍ فضا خوروي دزور، ظلم، نفرت، تعصب و دُشمنۍ هغه رويې غندي کومې چې د انسان د وقار د تذليل سبب جوړيږي -" [1]

ترقي پسندي پۀ معنوي لحاظ ډېر وسعت لري پۀ دې کښې هغه ادب مونږ شمېرو کوم ادب چې د وخت د تقاضو سره سم روان وي د وخت ضرورتونه يې پۀ نظر کښې وي د اسماني د خبرو پۀ ځائے پۀ زمکني حقائقو باندې ژور نظر لري - دا يو خو کۀ د غريبې او کمزورې طبقې لارښودنه کوي نو بل خوا خپلې ستونځې ورته هم پۀ ګوته کوي نۀ صرف پۀ ګوته کوي بلکښې د هغې نه د وتلو د پاره ورته لارې ښائي - کۀ د غريب مرسته کوي نو د ظالمې طبقې غندنه هم کوي - د انسانيت لار اولس ته ښائي د امن وروروڼۍ پۀ مقصد او ګټه يې پوهه کوي او د دُشمنۍ د تباهۍ نه خبردارے ورکوي - پۀ دې ادب کښې د هر قسم ذات پات او قوم نه بالاتر پۀ انساني ستونځو خبره کېږي د تهذيبي لارې د هوارې سره سره د مذهب، سياست نمائندګي هم کوي - مترقي او روښانفکره خلقو ته نۀ صرف د ځۀ ويېلو او کولو موقع ورکوي بلکښې مرسته يې هم کوي - هم دغه د ترقي پسندو شاعرانو، ليکوالانو او اديبانو مقصد دے کوم باندې چې خبره وشوه او پۀ ادب کښې هم ترقي پسندي دغه ده د کومې ذکر چې پۀ وړاندې خبرو کښې وشو -

" د ترقي پسندو مصنفينو د ادب مبتداء او منشاء، رومانويت، تصوريت، او پۀ ادب کښې د انتهائي مبالغه ارائۍ زور ماتول وو - او د اديبانو او دانشورانو توجه خپل ماحول، معاشرت او ژوندو مسئلو ته راواړل وو او دې لړ کښې چې کوم تحرير او عملي کار شوے دے هغه د ډېر اطمينان وړ دے -" [2]

پۀ ادب کښې حقیقت پسندي او ټولنیزې ستونځې بیانول او د ژوند پۀ لړ کښې قام او اولس ته د لاربښودنې سره سره پۀ ادب کښې د دروغو زور ماتول هم د دې قسم ادب پۀ زُمره کښې راځي - په دې لړ کښې ترقي پسندو لیکوالانو خپل کار پۀ ښۀ ډؤل ترسره کړے دے - هغه کۀ څوک نېغ پۀ نېغه د ترقي پسند ادب برخه وو او یا د دوي نه یې اثر اخستے د دغه وخت هم عصرو شاعرانو د دې تحریک منشاء پۀ خپل نظر کښې ساتلې ده د نړۍ د رواج تر مخه ځنګه چې د نړۍ ادبیات د یو بل نه اثر اخلي او د ارتقاء د لارې مخ پۀ وړاندې ځي هم دغه شان پښتو ادب هم دے -

## پښتونخوا ته د ترقي پسندۍ د راتګ تاریخي جاج :

پۀ پښتونخوا کښې د ترقي پسندۍ نخښې د وړاندې نه موجودې وې خو د باقاعده تحریک پۀ شکل کښې پښتونخوا ته ترقي پسندي د شلمې صدۍ پۀ دوېمه او درېمه لسیزه کښې راغلې ده چې بنیادونه یې پۀ هند کښې وو - او د اردو ادب ترقي پسندو د دې تحریک پۀ باقاعده توګه بنیاد پۀ هندوستان کښې ایښے وۀ - پۀ دې کښې څۀ لیکوالان داسې وو چې هغه پښتانۀ وو پۀ پښتو ادب کښې د دې تحریک پۀ باقاعده توګه د راتګ نه وړاندې هم ترقي پسند لیکوالان موجود وو ولې چې د دغه لیکوالانو په شا خدائي خدمتګار تحریک موجود ؤ -

> " دا معلومه ده چې د انجمن ترقي پسند مصنفین بنیاد پۀ نوم د ترقي پسندو لیکونکو پۀ کال ۳۶- ۱۹۳۵ء کښې وجود موندلے دے خو دا هم واضحه ده چې ترقي پسندي د دغه تنظیم د وجود نه مخکښې هم موجوده وه چې د نړۍ پۀ ادب کښې او پۀ پښتو ادب کښې یې وخت پۀ وخت اظهار شوے دے - " [3]

پۀ پښتو ادب کښې ترقي پسندي د وړاندې پۀ ښۀ پېمانه باندې موجوده وه او وجه یې هم دغه وه چې کوم ادب پۀ دغه دور کښې تخلیق کېدو نو پۀ دغه وخت کښې پښتانۀ غلامان وو او د دغه لیکوالانو پۀ هغه ټولو کارونو نظر ؤ کوم چې د انساني حق تلفۍ او د ازادۍ پۀ لړ کښې د دوي د لارې خنډونه وو - پۀ دې وجه دغه ترقي پسند لیک دلته د وړاندې پۀ یو شکل کښې

موجود وۀ ولې چې دې ادب کښې د ظلم خلاف مزاحمت دے نو مزمت هم دے د دې سره سره پکښې د مظلومې طبقې مرسته او د ظالم د ظلم غندنه هم ده پکښې کۀ يو خوا د قام ضرورتونه پۀ ګوته کوي نو بل خوا ورته د دغې د حل کولو لار هم په ګوته کوي - د دې نه علاوه پۀ دغه شاعرۍ کښې د انسان دوستۍ مينې او امن پېغام دے چې نۀ صرف د پښتون قام د پاره دے بلکښې د هر انسان د پاره دے -

لکه څنګه چې وړاندې ذکر شوے دے چې پښتونخوا ته پۀ باقاعده توګه د ترقي پسند ادب بنياد او شورو د خدائي خدمګار تحريک نه شوې ده - پۀ دې کښې مونږ سره د ټولو وړاندې

انجمن اصلاح الافاغنه : دا يو داسې تنظيم ؤ چې دے نبغ پۀ نبغه د پښتنې ټولنې سره تړون لرلو د دې تحريک مقصد پۀ بنيادي ډؤل پښتانۀ تعليم يافته کول وو او دې د خرابو رسمونو او دشمنو نه منع کول وو چې پۀ دې عرض باچاخان د دې سره سره د ازادو سکولونو بنياد هم کېښودو چې پښتانۀ پکښې سبقونه اووائي - او د نړۍ سره سره د علم پۀ بنياد خپل ځانونه برابر کړي حنيف خليل د باچاخان پۀ حواله ليکي چې

> " مونږ پۀ ۱۹۲۱ء کال کښې د دوستانو پۀ امداد پۀ اتمانزو
> کښې د ازاد سکول بنياد کېښودو چې پۀ دې سکول کښې
> قاضي عطاءالله، ميا احمد شاه، - --------- د مدرسې تر
> څنګه مونږه د پښتنو د غلطو رسمونو او رواجونو د اصلاح
> کولو د تشدد نه د منع کولو او پکښې د قام ولۍ او محبت
> پېدا کولو پۀ غرض د اصلاح الافاغنه په نامه يو انجمن جوړ
> کړو - " [4]

دا واضحه خبره ده چې دا يو داسې تنظيم ؤ چې پۀ ټولنه کښې يې د اصلاح کار کولو او پښتانۀ يې تعليم يافته کول چې يو خوا يې د ازادۍ د پاره قام تربيت کولو نو بل خو يې د وخت د ضرورت نه هم خبرول او پۀ پوري توګه به يې د دوي لارښودنه کوله - د دې تحريک پۀ غېږ کښې

د داسې ځوانانو شاعرانو او اديبانو روزنه وشوه چې ډېر لويې لويې ليکوالان او شاعران يې پېدا کړل - پۀ دې لړ کښې به د دې تنظيم غړو يو کليزه جلسه کوله چې پۀ باقاعده توګه اول، دوېم او درېم نمبر باندې راتلونکي شاعر ته به يې انعامونه هم ورکول - دا کليزه جلسه پۀ وړومبي ځل پۀ اپرېل کال ۱۹۲۸ء کښې اوشوه - چې پکښې د هغه وخت شاعرانو او اديبانو شرکت کړے ؤ او مشري يې باچاخان کړې وه - د دې نه علاوه پۀ کال ۱۹۲۸ء کښې باچاخان د پښتون پۀ نوم يوه رساله چاپ کول شورو کړل چې د وخت د مسئلو سره سره به يې د دغه شاعرانو او اديبانو نمائندګي هم کوله -

د صوبه سرحد زلمو جرګه : دا جرګه هم په اتمانزو کښې جوړه کړې شوه چې مقصد يې پۀ ځوانانو کښې بېداري پېدا کول وو او د ازادۍ د جنګ د پاره تيارؤل وو د دې ناستې مشري هم باچاخان کړې وه چې ځوانانو ته يې وئيلي وو چې تاسو د نورو صوبو د ځوانانو پۀ شان د ازادۍ پۀ دې تحريک کښې خپله برخه واچوئ -

> "بيا ميا احمد شاه بي اے بېرسټر پېښؤر د جلسې اعراض و مقاصد بيان کړل ويېل يې پکار دي چې زمونږ زلمي ورونه بېدار شي او فرقه وارانه جګړو ته خېرباد اوائي"[5]

دا جرګه چې کله جوړه شوه د دې خپل څۀ خاص اعراض و مقاصد وو او خپل منشور وۀ چې پکښې د دې نوم مقرر کړے شۀ او د دې پۀ اصولو او د کار کولو خبره وشوه يعنې د کار په نوعيت خبره وشوه چې څۀ کار به کوو او څنګه طريقې سره به يې کوو - دې جرګې د خدائي خدمتګار تحريک نمائندګي کوله پۀ دې جرګه کښې به د سياسي هلو ځلو سره سره ادبي هلې ځلې هم کېدلې چې ښۀ ښۀ ليکوالان يې پېدا کړې دي -

د انجم ن ترقي پسند ځانګه پۀ پښتونخوا کښې : پښتونخوا ته د ترقي پسند ادب د ځانګې د راتګ نه وړاندې دلته خدائي خدمتګار تحريک او د انجمن اصلاح الافاغنه پۀ شکل کښې دوه تنظيمونه موجود وو - اګر کۀ اردو ادب د نوم په لحاظ ترقي پسندي دلته راوړه خو پۀ

پښتونخوا کښې د وړاندې نه په معنوي لحاظ ترقي پسندي موجوده وه - خو ولې پښتونخوا ته کاکاجي صنوبر حسېن مومند ترقي پسند څانګه راوړه ولې يو خوا کۀ دے نېغ پۀ نېغه د کميونسټ پارټۍ سره تړلے ؤ نو بل خوا سوشلسټ هم ؤ - پۀ هند کښې د دې سرخېلان سيد سجاد ظهير، جهان اراء، سبط حسن، احمد نديم قاسمي، منشي پريم چند، فراق ګور کهپوري او داسې نور بلها ليکوالان شامل دي چې د دې تحريک پۀ بنياد کښې يې بنيادي کردار ادا کړے -

> " پۀ لندن کښې انجمن ترقي پسند مصنفين د ابتدا نه پس د انجمن څانګې د هندوستان پۀ ټولو غټو ښارونو کښې جوړې شوې وې - د کال ۳۶ - ۱۹۳۵ء نه تر کال ۱۹۴۳ء پورې د انجمن جلوسونه په لکهنؤ، دهلي، بمبئ کښې زيات فعال وو - پۀ کال ۱۹۳۶ء کښې چې د تحريک باني سيد سجاد ظهيرد پېښور دوره کوله نو د ترقي پسند دانشور کاکاجي صنوبر حسېن ذکر يې هم ديو ترقي پسند فعال دانشور پۀ څېث کړے دے - "[6]

دا تحريک د هند ليکوالانو پېل کړے دے چې وخت پۀ وخت يې ځائے پۀ ځائے د دې څانګې جوړې کړې دي او دا يې فعال ساتلے خو د پښتنو سره د دې تعلق د پښتنو ليکوالانو د دې تحريک سره تړون ؤ -

اولسي ادبي جرګه : د اولسي ادبي جرګې بنياد د ازادۍ نه پس کېښودے شوے دے - مشري يې د هغه وخت نامتو ليکوالانو او شاعرانو کوله چې پکښې کاکاجي صنوبر حسېن مومند، حمزه بابا او دوست محمد خان کامل مومند شامل دي - د دې نه علاوه د پښتو نور ډېر ترقي پسند ليکوالان هم د دې جرګې غړي وو - پۀ کال ۱۹۵۳ء کښې د دې جرګې بنياد اېښودے شوے دے -

> " اولسي ادبي جرګې تر کال ۱۹۵۷ء پورې خپلې هلې ځلې پۀ تسلسل سره برقرار وساتلې - دې نه پس جرګه د ځنې

مصلحتونو پهٔ بنیاد ختمه شوه خو یو ځل بیا پهٔ کال ۱۹۶۳ء
کښې د هم دغه فکر ترجمان یو بل تنظیم د ساهو لیکونکو
مرکه پهٔ نوم پهٔ وجود کښې راغلو -" [7]

دا جرګې هم د خدائي خدمتګار تحریک تسلسل دے پښتونخوا ته ترقي پسندي او دلته د دې پرمختګ د دې ذکر شوې ټولو مرحلو نه راتېره شوې او تر دې دمه رارسېدلې ده -

د فضل احمد غر تعلق خو نېغ په نېغه د ترقي پسند تحریک سره نهٔ ؤ خو ولې بیا هم د دې خلقو اثر پرې ضرور ؤ ولې چې د دهٔ شاعري به وخت پهٔ پښتون مجله کښې چاپ کېدله چې پکښې به انسانیت دوستي، امن پسندي، حریت پسندي، قوم ولي او بېداري وه چې د یو ترقي پسند پهٔ حېث یې خپل برخه کار پهٔ دې لړ کښې کړے دے -

"د ترقي پسندو مصنفینو د ادب مبتداء او منشاء،
رومانویت، تصوریت، او پهٔ ادب کښې د انتهائي مبالغه
ارائۍ زور ماتول وو - او د ادیبانو او دانشورانو توجه خپل
ماحول، معاشرت او ژوندو مسئلو ته راواړل وو - او دې لړ
کښې چې کوم تحریر او عملي کار شوے دے هغه د ډېر
اطمینان وړ دے -" [8]

اوس فضل احمد غر هم دغه ټولې ستونځې کهٔ معاشي دي او کهٔ ټولنیزې ټولې یې مخې ته راوړلې دي - او د دې ټولو ستونځو نه د وتلو او خلاصي کوشش یې کړے دے -

"نــــور قومونـــــه چـــې څنــــګ دي پـــــهٔ ترقـــــۍ کښـــــې
علـــــم و فــــــن زده کــــــړه کــــــهٔ داســـــې کېـــــدل غــــــواړي
تـــــهٔ پــــــهٔ خپلـــــه د ځــــــان قــــــدر وکـــــــړه پاځـــــــه

کــــۀ دُنیـــا کښــــې پـــۀ عـــزت اوســـیدۀ غـــواړې
وار خطـــــــا دې خطـــــرې د لارې نــــــۀ کــــــړې
کـــــۀ منــــزل تـــــه د مقصـــــود رســـــېدۀ غـــواړې"[9]

ترقي پسندي د دنیا سره د تګ نوم دے ځان د دنیا سره د سیال کولو نوم دے د ځان د بقا نوم دے - دلته کښې چې دۀ د کومو دوه څیزونو ذکر کړے دے خبرې صرف دوه دیدي خو جامع دي علم نن کۀ دنیا اسمان ته رسېدلې ده نو د علم پۀ برکت رسېدلې ده او دوېم څیز پۀ هنر رسېدلې ده - دنیا د هغه قامونو قدر کوي کومو خلقو سره چې علم او فن وي - دوېمه شعر کښې یې د خود داری خبره کړې ده چې پۀ خپله د ځان قدر وکړئ کۀ چرې پۀ دنیا کښې پۀ عزت اوسیدۀ غواړې او عزت به هله تر لاسه کېږي چې علم او فن قوم تر لاسه کړي - دغه ځائے ته پۀ رسېدو کښې به هر قسمه حالات مخې ته راځي خو پۀ داسې حالاتو کښې حوصله اوچته ساتل ډېر ضروري دي ولې کۀ حوصله پرېوته نو بیا منزل ته رسېدل ممکن نۀ دي دا هر څۀ پۀ نظر کښې ساتل د خپل معراج د رسېدو د پاره ډېر ضروري دي-

"ادب کهستان"

نــــــامردان د وخـــــت راتلــــو تــــــه کــــــړي کتــــــل
ځوانـــــــان خپلــــــه جـــــوړوي وختونـــــــه تـــــــل
چــــــې خـــــدمت د پاکســــتان کــــوي هغــــو لــــــه
پـــــۀ نرتـــــوب پکــــار دے هــــــر کــــــړاؤ زغمــــــل
د ایثـــار جـــوش چــې افــراد کښــې د کــوم قــوم شــته
د هغـــــــۀ برخــــــه کښـــــــې دے مېـــــــدان ګټــــــل
غــــــاړې پښـــــې ښــــکل کــــــړې دي د هغــــــه خلقــــــو
چــــې وړوکـــي کـــار کښـــې مــــړې د دې نــــه ښــــه ده

د لــــويې امـــــر پـــــۀ طلـــب کښـــــې مــــړ کېـــدل
خپـــل عـــرض لـــه د مخلـــوق وينـــه تـــويې نـــۀ کـــړي
د مخلـــوق فائـــدې لـــه ځـــان قربـــان کـــړه خپـــل"[10]

دوه قسمه خلق پۀ مخ د زمکه ژوند کوي يو هغه خلق دي چې وخت له انتظار کوي هغه اوده شمېرلے شي او بل وخت پۀ خپله ځان له سموي او پۀ خپل محنت او مشقت وخت د ځان تابع کوي - هم د دغه بېدارۍ سبق يې ورکړے دے - څوک چې د خپل ملک او خاورې پاکستان خدمت کوي نو هغوي د وخت هر کړاو زغمي ولې چې دا منزل د رسېدو لار ده - دغه لار کښې پۀ څۀ داسې خبرې راځي چې د هغې د پاره به قرباني او چې څوک قرباني ورکوي هغوي مېدان ګټي - انسان چې د ځان نه چاپېره د خپل سوچ او کار کومه کرښه او دائره راښکلې ده هغه وسيع کول دي ولې انسان هسې هم مرې خو چې لويې مقصد خپل کړي او پۀ هغې کښې مړ شي نو دا غټه خبره ده - پۀ دې ټولو کارونو کښې انسان بيا خود عرضه کېږي هم دغه خبره يې ورته هم کړې ده چې هسې نه تۀ د خپلې ګټې د پاره د قوم او اولس وينه تويې کړې - پۀ دې کښې يې بېداري او خپل مرام ته د رسېدلو لار او هنر يې بيان کړے دے چې ځان به خپل مرام ته څنګه رسوې وړاندې ليکي چې

"چـــې پـــۀ خپلـــه د ښېښـــو پـــۀ کـــور کښـــې اوســـې
ګټـــــې ښـــــې نـــــۀ دي ګاؤنـــــډ کــــره ويشـــــتل
چـــــې کـــــوم قـــــوم کـــــړاؤ زغملـــــے شـــــي
د بخښــــنې ځـــائے کښـــې تـــورې نـــه کـــار اخلـــه
او د تـــورې ځـــائے کښـــې او نـــۀ کـــړې بخښـــل
نزاکـــت چـــې د يـــو قـــوم ځوانـــان راواخلـــي
شـــــي لازم د هغـــــه قـــــوم تبـــــاه کېـــــدل

خود داري چې قوم کښې مړه شي په هغه کښې
د هندو خطبه لوستې شي يا د غل"[11]

اخلاق او انسانيت هم تر ټولو مهم دے وائي چې کۀ تۀ پۀ خپله د شيشو پۀ کور کښې اوسې نو بل انسان چې ستا سره پۀ ګاونډ کښې اوسيږي د هغۀ کور ته کاڼي مۀ اوله مطلب دا چې هغه تنګوه مه او پۀ ژوند ئي ستومانه کوه مه پۀ سپکه سترګه ورته مۀ ګوره - کړاؤ زغمل پۀ ژوند کښې د کاميابو قومونو نخښه ده او څوک چې کړاؤ زغملے شي نو هغه بيا نور هم پۀ کړاؤ کښې اچولے شي او بل قوم چې کله پۀ کړاؤ کښې اچوي د دې مطلب دا دے چې هغوي دوي يرغمال کولے نۀ شي - بل د قوم ځوانان ته يې دا خبره کړې ده چې ځان نازک کوئ مه ولې چې کوم خلق نازک شي نو ناراست شي نو بيا د ناکامۍ سره مخ کيږي او تباه کيږي - د دې هر څۀ د پاره خود داري او ځان پېژندل ډېر ضروري دي ولې کوم قوم نه خوداري اوځي نو د هغوي سره بيا خپله بيانيه نۀ وي بيا ترې يا غلۀ جوړ او يا يې پۀ خپله کښې د بل چا ژبه وي - د دې نظم پۀ اخري برخه کښې ليکي چې

"امن ښۀ دے خو د دې معنه دا نۀ ده
مونږ دې چپ يو زمونږ جړ دې وهي بل
او بۀ ښل يې مونږ له ښائي کړو کښې
کۀ زمونږه خلاف واخستو چا پل
د ګيدړ د سل کليزه ژوندانۀ نه
د مزري دے د يو ورځې ژوند افضل
خوش خبري د حق ټولي له په هر حال کښې
تباه شي چې څوک باطل سره شي مل
نارينه مرګ نۀ يريږي خپله

ورستو کېږي نه چې مخکښې شي يو ځل
چې د چا د ارادې پېړې محکم وي
لويې ځايونو ته هغه ورسېدل
د لويې خلقو ژوند سبق راکوي مونږ له
چې د ژوند معيار اوچت کړو مونږه خپل

کځ هغوي مړځ دي نو نن يې مونږ د پاره
روښان پرېښودځ د وخت په شګه پل"[12]

مزاحمت م د ژوند د بقا د پاره ضروري ده - خپله بقا به د مزاحمت دلارې کول ضروري وي ولې چې نن د دنيا زورور قامونه لګيا دي اودځ او سست قامونه چقوي او د ځان محتاجه کوي يې دغه مزاحمت واحده لاره ده چې قامونه پرې ځان ساتلے شي - د نرتوب ژوند تېرول ډېر ضروري دي ولې پځ نړۍ کښې د داسې خلقو او قامونو مرسته کول چې پځ حقه خبره ولاړ وي ډېر ضروري دي او ځوک چې د حق ملګري وي د پاره د خوشحالي وي - نارينه ته يې هم پځ دې وجه نارينه ويېلے دے چې دے به د خپلې خبرې او د ننګ د کار نه نځ پځ شا کېږي - د دغې د پاره کلکه اراده او همت پکار دے - د نړۍ هغه خلق او قامونه خپل مقصد ته اورسېدل د کومو خلقو ارادې چې مظبوطې وې او صرف هغه خلق خپل مرام ته پځ رسېدو کښې کامياب شوي دي چې ارادې او حوصلې يې مظبوطې دي - د لويو خلقو د ژوند نه زدکړه کول ضروري دي ولې چې د ژوند پځ حواله مونږ د دوي نه ډېر ځځ زده کولے شي - دوي چې د ژوند ښځ کولو د پاره کوم کوششونه کړے وي پځ هغې کښې ترې نه زدکړه کېدے شي او په کومو خبرو کښې چې ناکامه شوے د هغې نه ځان ساتل مونږ د لويو خلقو د ژوند کولے شي - هغوي چې پځ کومو لارې تللي دي د هغوي مثال داسې دے چې پځ شګو يې تګ کړے وي او د هغوي پلونه زمونږ د لارې مشال ګرځېدے شي کځ نن هغوي مړ هم دي ښو زمونږ د پاره د هغوي پځ تګ تلل اسان او ضروري دي - پځ دې يو نظم کښې هغه ټولې خبرې ذکر شوي دي کومې

چې د یو قام د روښانه سباون سبب ګرځي ترقي پسندي، روښان فکري، مزاحمت ، انسانیت او انسان دوستي ټولې خبرې يې پکښې ذکر کړي دي-

"درس عبرت"

کۀ دې خیال د ازدۍ د خپل وطن وي
مۀ وېرېږه کۀ دې مخکښې مشین ګن وي
ترقي پۀ لړ وئیلو ډېر عمل ده
نۀ پۀ دې چې پاؤ عمل خبرې من وي
پۀ نفاق باندې اسان کارونه ګران شي
اتفاق باندې موم کېږي کۀ آهن وي
نن افلاس او جهل هر چا نه رخصت شو
زمونږ قوم کښې به تر کومه استوګن وي
چرې زۀ به خپل وطن اووینم داسې
سر چشمه چې د هر علم و د هر فن وي
ثو ګلونه د هغۀ د پاڅه کېږده
چې کوم ځائے کښې د قومي شهید مدفن وي
کړه پۀ غوږو دې زما خبرې داسې
لکه ثنګ چې ملغلرې د عدن دي"[13]

دا نظم يې هم ټول د ازادۍ همت او بهادرۍ د ے وائي کۀ چرې ته خپل وطن ازادول غواړې نو بیا به د ټوپک او مشینګن نۀ وېرېږې ولې چې ثوک د ازادۍ پۀ لړ کښې د دې خبرو نه او برېدو نو هغه خپل ځان او قام نۀ شي ازادولے بل صرف په وېنا هم کار نۀ کېږي بلکښې دومره دومره وېنا

کول پکار دي چې صرف انسان پرې عمل کولے شي او دغه لړې خبرې او ډېر عمل د ترقۍ راز او مقصد دے - د ترقۍ د پاره د مينې او نفاق نه ځان هم ساتل ډېر ضروري دي ولې چې کۀ چرې اولس د يو بل سره نفاق او دُشمني ساتي نو بيا هغوي ترقي نۀ شي کولے او کۀ چرې پۀ اتفاق کښې وي نو د اوسپنې مقابله هم داسې کوي لکه د مومو په شان ولې " اتفاق ته غرونه څۀ دي " د دنيا چې کوم ضرورت هغه علم او پوهه ده او دا خوهش لري چې څنګه د نورو قومونو نه جهالت او غريبي ختمه شوې ده هم دغه شان د خپل قوم نه د دې دوه څيزونو ختمولو خواهش لري - او خپل وطن د علم او هنر مرکز ليدل غواړي دا خواهش يې ښکاره کړے دے او وائي چې کۀ چرې دا ورځ به هم اووينم د خپل قام ترقي او د دنيا سره تګ يې ارمان دے - او پۀ اخره کښې يې دا خبره هم کړې ده کوم ځائے کښې چې د شهيد قبر اووينئ نو پۀ هغې ګلونه شيندئ يو خوا کۀ يې د ظالم خلاف د مزاحمت خبره کړې ده نو بل خوا يې د قام د شهيد سره هم د مينې اظهار کړے دے -

"اوس کتاب تۀ د ادم دُرخانۍ پرېږده
دُنيا نوې شوه زړې خبرې پرېږده
تۀ کۀ نن هم د پرون پۀ شان اودۀ يې
نو استوګنه دې دنيا کښې بې فائدې ده"[14]

دې قطعه کښې يې هم د نوې دور سره د هم اهنګۍ خبره کړې ده - ادم او دُرخانۍ اوس دوخت ضرورت پاتې نۀ دے اوس دنيا نوې شوې ده او د ويخېدو وخت راغلے دے او کۀ پۀ دې وخت کښې هم يو سړے د غفلت پۀ خوب اودۀ وي نو بيا دنيا کښې د دۀ د ژوند هېڅ ګټه نشته او بې فائدې ژوند کوي -

د فضل احمد غر شاعري د ترقي پسندۍ تر ټولو لويه نمونه ده ولې کۀ يو خوا يې د علم پۀ حاصلولو زور وکړے دے نو بل خوا يې د فن په زدکړه هم زور ورکړے دے کۀ خوا يې قام ته د

بېداری اواز ورکړے دے نو بل خوا يې ورته د هغې لار هم ښودلې ده - کۀ يو خوا يې د امن خبره کړې ده نو بل خوا يې د هغې د د برقرار ساتلو پۀ باب کښې هم خبره کړې ده - يو طرف ته يې قام ته د نفاق نه بچ دکېدلو خبره کړې ده نو بل خوا يې ورته د اتفاق ګټې هم پۀ ګوته کړې دي عرض دا چې خپل اولس پۀ دې خبره پوهه کړے چې د دنيا د ترقۍ راز څۀ دے -

[1] - محمد ، حنیف، پهٔ پښتونخوا کښې ترقي پسند تحریک او د پښتو ترقي پسندې شاعرۍ تحقیقي او تنقیدي جائزه(۱۹۲۰ـ ۱۹۳۷ء)، غزنوي کتاب پلورنځائے، ۲۰۱۴ عیسوي کال، مخ، ۹

[2] - خلیل، حنیف، ائینې، محمد رسول ( پښتو ااکېډمي)،مراسله اجمل خټک، اپرېل ۲۰۰۱ء، مخ ۲۲۵

[3] - محمد ، حنیف، پهٔ پښتونخوا کښې ترقي پسند تحریک او د پښتو ترقي پسندې شاعرۍ تحقیقي او تنقیدي جائزه(۱۹۲۰ـ ۱۹۳۷ء)، غزنوي کتاب پلورنځائے، ۲۰۱۴ عیسوي کال، مخ،۱۶۵

[4] - محمد ، حنیف، پهٔ پښتونخوا کښې ترقي پسند تحریک او د پښتو ترقي پسندې شاعرۍ تحقیقي او تنقیدي جائزه(۱۹۲۰ـ ۱۹۳۷ء)، غزنوي کتاب پلورنځائے، ۲۰۱۴ عیسوي کال، مخ،۷ـ۱۰۸ ـ

[5] - هم دا اثر مخ، ۱۱۳

[6] - هم دا اثر مخ، ۲۰ـ ۱۲۱

[7] - هم دا اثر مخ،۱۲۵

[8] - خلیل، حنیف، ائینې، محمد رسول ( پښتو ااکېډمي)،مراسله اجمل خټک، اپرېل ۲۰۰۱ء، مخ ۲۲۵

[9] - غر، فضل احمد ، د غرهٔ ګلونه، دوېم چاپ، ۱۹۹۱ء، جدون پرنټنګ پرېس پشاور،مخ،۵،۴

[10] - هم دا اثر، مخ، ۱۱، ۱۰

[11] - هم دا اثر، مخ، ۱۱

[12] - هم دا اثر، مخ، ۱۲

[13] - هم دا اثر، مخ، ۱۳

[14] - هم دا اثر، مخ، ۳٦